**Department of Health Services**
Timothy W. Lutz
Director

**County of Sacramento**

**Divisions**
Administration
Behavioral Health
Primary Health
Public Health

# خبرتیا: زهرجن وحشي مرخيري

په سکرامنټو کې زهرجن وحشي مرخيري کشف شوي دي. د دې مرخیریو خوړل کولی شي د جدي ناروغی لامل شي چې په کې روغتون کې بستر کېدل یا مړینه شامل دي. د سکرامنټو کاونټي عامه روغتیا خلکو ته مشوره ورکوي چې نه باید په دې وخت کې مرخیړي راټول او وخوري.

**مهم معلومات**

- د زهرجنو مرخیړیو پخول هغه خوندي نه شي ګرځولای
- یوازې کم مقدار یې هم جدي زیان رسولای شي
- په عامو نښو نښانو کې یې د معدې درد، نس ناستی، زړه بدوالی او کانګې، ستړیا او سربدوالی شامل دي

**که تاسې زهرجن مرخیری خوړلی وي نو څه باید وکړئ**

- سمدلاسه طبي پاملرنه وغواړئ یا **د کالیفورنیا د زهرو د کنټرول تلیفوني کرښې ته په 1-800-222-1222 شمېره زنګ ووهئ.** دا تلیفوني اړیکه وړیا ده او په اونی کې 7 ورځې، 24 ساعته، په 200 ژبو کې فعالیت کوي.
- که ممکنه وي نو ناخوړل شوی مرخیری له ځان سره یوسئ. هغه په کاغذي کڅوړه یا موم شوي کاغذ کې ځای په ځای کړئ. دا کار به متخصصینو سره د مرخیري په پیژندلو کې مرسته وکړي، چې ستاسې د طبي پاملرنې په ښه کولو کې ګټور تمامیږي.
- د زهرجن مرخیړیو لمس کول معمولا خطر نه رامنځته کوي، مګر تاسې باید تل خپل لاسونه له لمس کولو وروسته ومینځئ.
- اضافي معلومات دلته شته https://www.cdph.ca.gov/Programs/CCDPHP/DEODC/EHIB/Pages/EIS/Poisonous-Mushrooms.aspx

که تاسې کومه پوښتنه لرئ، نو کولای شئ د سکرامنټو کاونټي عامې روغتیا سره په 916-875-5881 شمېره اړیکه ونیسئ.

**Division of Public Health**
Olivia Kasirye, MD, MS
Public Health Officer

7001-A East Parkway, Suite 600A
Sacramento, CA 95823
phone (916) 875-5881
fax (916) 854-9709
www.scph.com

**Department of Health Services**
Timothy W. Lutz
Director

**County of Sacramento**

**Divisions**
Administration
Behavioral Health
Primary Health
Public Health

# خبرتیا: زهرجن وحشي مرخیري





